أدعية الصلاة وأذكارها ـ بشتو

# دمونځ دعاګانې



جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

هاتف: ٤٢٣٤٤٦٦ ٠١٦ ـ فاكس: ٤٢٣٤٤٧٧ ٠١٦

٢٧٨

جمعية الدعوة بالزلفي

# دمونځ دعاګانې

## أدعية الصلاة وأذكارها ـ بشتو

جمعية الدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات في الزلفي
Tel: 966 164234466 - Fax: 966 164234477

# أدعية الصلاة وأذكارها

أعده ترجمه إلى اللغة البشتو

جمعيةالدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالزلفي

الطبعة الثانية: ٨ / ١٤٤٣


ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بالزلفي

أدعية الصلاة - الزلفي، ١٤٤١هـ

٤٤ ص، ١٧-١٢سم

ردمك: ٩-١٦-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

(النص باللغة البشتو)

١ـ الأدعية والاذكار أ- العنوان

ديوي ٩٣ ،٢١٢ ١٤٤١/٤٣هـ

رقم الإيداع: ١٤٤١/٤٣هـ

ردمك: ٩-١٦-٨٢٤٣-٦٠٣-٩٧٨

# مقدمة

داخائسته مجموعه د دعاګانو او د اذکارو ده چي د نبی صلی الله علیه وسلم نه په اذان ، اودس او د مونځ باره کښی نقل ده ، مسلمانانو دپاره پکار دی چي پدي عبادت باندي حرص وکړی ځکه دا دعاګانی د تجاوز کولو نه محفوظي دی، او قبلیدلو ته ډیري نزدی دی ، او ددی لحاظ هم پکښی ساتلئ شی چی مختلف الفاظ د دعاګانو رانقل کړی شوی دی ، د سنت د حفاظت دپاره او د سترې والی دختمولو دپاره او د خشوع د حاصلولو دپاره ، او مونږه د کتاب د ورکوټوالی خیال ساتلئ دی که څوک د مزید اذکارو إراده لری نو مفصل کتابونو ته دی رجوع وکړی پدی کتاب کښی د متفق علیه حدیث متعلق مونږه صرف د بخاري کتاب په الفاظو باندی إکتفاء کړی ده ، د الله سبحانه وتعالی نه دعاء ده چی دا عمل فائده مند وګرځوی او دا کوشش زمونږه قبول کړی او کوتاهی راته معاف کړی او جنت ته د داخلیدو سبب وګرځوی آمین.

# د مونځ دعاګانی او أذکار

د اودس نه مخکښې (تسميه) بسم الله وئيل : ترجمه : « شروع کوم په امداد د نوم د الله تعالی باندی»

**دأودس نه روستو دعاء** : « **أَشْهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ**».

ترجمه : «زه ګواهی کوم چی نشته دی حقدار د بندګۍ سيواء د يو الله نه او محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده اورسول دی » [ رواه مسلم : ٥٥٤ ]

## د مؤذن آواز د أوريدلو په وخت کښے دعاء

مؤذن چي څه الفاظ وائی هغه به أوريدونکی هم ووائی او بيا به په رسول الله ﷺ باندی درود شريف اووائی : «د مؤذن ددی وينا په وخت کښی » (**حي على الصلاة ، حي على الفلاح**): (مونځ ته راشئ ، کاميابۍ طرفته راشئ) **تقول** (أوريدونکي به وائي) : (**لا حول ولا قوة إلا بالله**) ترجمه : نشته دي أړونکي (د ګناه نه) او نشته دي توفيق ورکونکي (د نيکۍ) مګر صرف يو الله دي.

(بیا به اووائی) (( **اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الْدَّعَوَةِ التَّآمَّةِ، وَالصَّلاةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيْلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وابْعَثْهُ مَقَاْمًا مَحْمُودًا الَّذْي وَعَدتَهُ** )).

(ترجمه) : اے الله ! چه رب ددي پوره دعوت ئي او (رب) د قائمیدونکی مونځ ئي ، **محمد** ﷺ ته وسیله (جنت کښی یوه مرتبه ده) او فضیلة (مهربانی) ورکړی او د مقام **محمود** مرتبی ته ئی ورسوی هغه چی تا ورسره وعده کړی ده [ رواه البخاري: ٦١٤ ]

خوک چی دا دعاء اووائی د هغه دپاره د نبی ﷺ شفاعت واجب شی :

د الدعوة التامة نه مراد اذان دی ، او الوسیلة نه مراد په جنت کښی یوه مرتبه ده چی یو بنده د بندګانو د الله تعالی نه به د هغی حقدار وی او نبی ﷺ فرمائیلی دی ، چی زه امید کوم د الله تعالی نه چه زه هغه یو بنده به زه یم.

**جومات ته د داخلیدو دعاء** : (( **اللَّهُمَّ افْتَحْ لي أَبْوَابَ رَحْمَتِك** ))

اے الله ! زما دپاره د خپل رحمت دروازي کهولاؤي کړه [ رواه مسلم: ١٦٥٢ ]

**جومات نه د وتلو دعاء** : ( **اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ** ) [ رواه مسلم: ١٦٥٢ ] اے الله ! زه ستانه ستا مهربانی غوارم:

جومات ته د تللو دعاء : (( اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا ، وفِيْ لِسَانِي نُورا و اجعل فِيْ سَمْعِيْ نُورًا ، واجْعَلْ فِيْ بَصَرِيْ نُورًا، واجْعَلْ مِنْ خَلْفِيْ نُورًا ، ومِنْ أَمَامِيْ نُورًا، واجْعَلْ مِنْ فَوْقِيْ نُورًا ، ومِنْ تَحْتِيْ نُورًا ، اللَّهُمَّ أَعْطِنِيْ نُورًا )) اے الله ! زما په زړه کښې رنړا واچوي او په ژبه زما کښې رنړا واچوي او زما په اوريدلو کښې رنړا واچوي او په ليدلو زما کښی رنړا واچوي او زما نه روستو رنړا وګرځوي او زما د مخکښې رنړا وګرځوي او زما دپاسه رنړا وګرځوي او زما د لاندي رنړا وګرځوی ، اے الله ! ما له رنړا راکړي . [ متفق عليه: ٦٣١٦ ، ١٧٩٩ . وهذا لفظ مسلم]

** د رنړا نه مراد، رنړا د حق او د حق بيان دي

## د مونځ د شروع کولو دعاء:

١- (( اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ المَشْرِقِ وَالمَغْرِبِ. اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ الخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بالمَاءِ والثَّلْج وَالبَرَدِ )) [ متفق عليه: ٧٤٤، ١٣٥٤ ] اے الله ! لري والی راولی زما او زما د ګناهونو ترمينځ لکه څنګه چی تا د مشرق او مغرب ترمينځ لری والي راوستی دي ، اے الله د ګناهونو نه ما داسی پاک کړي لکه څنګه چه سپينه جامه د خِيرو نه پاکيدلی شی او اے الله ! زما ګناهونه په أوبو، واوره او ګلئ باندی اووينځی.

٢ ـ: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وتَعَالَى جَدُّكَ ، وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ» ترجمه : اے اللّٰه! پاکی ده تالره سره د حمد ستانه او برکتونو والا دی نوم ستا ، او اُوچت دی مقام ستا ، او ستا نه علاوه حقدار د بندګۍ نشته دي. [ رواه أبو داود والترمذي:٧٧٥ ، ٢٤٢. وصححه الألباني]

❖ **سبحانك** : (د ټولو نقصانونو نه ستا دپاره پاکی بیانوم) عظمتك (يعني لوئی ستا) ، وجلالك (او شان ستا) ، وفضلك (او مهرباني ستا).

**٣ ـ «الحمْدُ لله حَمْدًا كَثِيرًا طيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ »**

ترجمه : ټول صفتونه د اُلوهيت اللّٰه تعالی دپاره دی چی ډير زيات پاکيزه او مبارک صفتونه دی [ رواه مسلم : ١٣٥٧ ]

**٤ ـ «اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالحَمْدُ لله كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ الله بُكْرَةً وَأَصِيلاً »**

اللّٰه تعالی لوئی دي په ډير لوئي سره او اللّٰه تعالی لره ستائينی دی ډيری ستائينی او پاکی ده اللّٰه تعالی لره د صباح په وخت کښی او د بيګا په وخت کښی. [ مسلم: ١٣٥٨]

**٥- (( اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَ مِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ، اهْدِنِي لِمَا اختُلِفَ فِيهِ مِنَ الحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ )) .**

٥ ـ اے الله! چې رب د جبرائيل عليه السلام او د ميكائيل عليه السلام او د اسرافيل عليه السلام دی ، ناشنا پيداء كونكې د آسمانونو او د زمكې ئې ، او په پټو څيزونو باندی پوهه ئې ، او ته فيصله كونكې ئې د خپلو بندګانو مينځ كښې په هغه كارونو كښې چې دا خلق پكښې اختلاف كوی ، اے الله! په خپل توفيق باندی ماته هدايت وكړه د حق طرفته هغه چې اختلاف پكښې كړی شوي دی ، يقينا ته هدايت كوی نيغې لارې ته چاته چه وغواړی ، [ رواه مسلم: ١٨١١ ]

٦- (( وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِين، إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لله رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِك أُمِرْتُ وَأَنَا مِنْ الْمُسْلِمِينَ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا، إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، وَاهْدِنِي لأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ ، لاَ يَهْدِي لأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا ، لاَ يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْت ، لَبَّيْكَ ، وَسَعْدَيْكَ وَالخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ))

٦ ـ ((تابع كړی دی ما خپل مخ (يعنی ځان) هغه ذات ته چې ناشنا ئي پيداء كړی دی ، آسمانونه اوزمكې ، په داسی حال كښې چې كلك يم په توحيد او نه يم د مشركانونه ، يقينا

زما مونځ او زما قرباني ، او زما ژوند او مرګ د الله تعالی دپاره دی چی پالونکی د ټولو مخلوقاتو دی ، او هیڅ شریک ورسره نشته دی او پدی (توحید) ما ته حکم شوی دی او زه د مسلمانانو د ډلی نه یم ، اے الله! ته بادشاه ئی ، نشته حقدار د بندګۍ مګر صرف ته ئی، ته زما رب ئی، او زه ستا بنده یم، ما خپل ځان باندی ظلم کړی دي او خپل ګناهونو باندی اعتراف کوم (یعنی منکر ترینه یم) ما ته زما ټول ګناهونه اُوبخه ، یقینا د ګناهونو بخونکی نشته دي مګر صرف ته ئی ، خائسته اخلاقو طرفته راته هدایت وکړه ، نشته خائسته اخلاقو ته هدایت کونکی مګر صرف ته ئی او ناکاره اخلاق زما نه واړه وه او زمانه ناکاره اخلاق نشی اړولی مګر صرف ته ، زه حاضر یم تاته (اے الله) او ځان نیک بختة کوم په تا باندی او ټول خیر ستا په لاس کښی دی (ښکله چی ستا دشان سره لائق وی) او شر نشی منسوب کیدلی ستا طرفته ، زه ستا د وجی نه یم او تا باندی می ځان سپارلی دی، ته برکتونو والا ئی او أوچت دی شان ستا، زه ستانه بخنه غواړم اوتاته توبه وباسم. [رواه مسلم: ۱۸۱۲ ]

# د رکوع اذکار:

١- (( سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ )) «پاکي ده رب زما لره چه ډير لوئي دی» [رواه مسلم: ١٨١٤]

يو ځل وئيل واجب دی او زيات وئيل ئي بهتره دی :

٢- (( سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ ربَّنا وَبِحمدِكَ، اللَّهُمَّ اغفِرْ لي ))

«پاکي ده تالره اے الله ! چې زمونږه رب ئی سره د حمد ستانه اے الله ما ته بخنه وکړی . [ متفق عليه: ٤٩٦٨ ، ١٠٨٥ ]

٣ ـ (( سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ المَلائِكَةِ وَالرُّوحِ )) [ رواه مسلم: ١٠٩١]

الله پاک دی او ډير پاک دی، رب د ملائکو او دجبرئيل عليه السلام دی.

٤ ـ (( سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ وَالملَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ))
[رواه أبو داود والنسائي: ٨٧٣ ، ١١٣٣. و صححه الألباني ]

پاکی ده (هغه ذات لره چه) خاوند د لوئی قدرت دی او لوئی بادشاهت والا او ډير لوئي عظمت والا دی .

٥ ـ ((اللَّهُمَّ لَكَ ركعتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خشع لك سمعي وبصري ومخيي عظمي وعصبي)) [ رواه مسلم: ١٨١٢ ]

اے الله ما ستا د پاره رکوع وکړه، او په تا باندي مي ايمان راوړی دی او ستا فرمانبردار يم ، زما أوريدل ، زما ليدل ،

زما د بدن مغز زما هډوکی ،زما د بدن پلئ تاته (اے اللهٰ) عجزی کوی،

## د رکوع نه پس اذکار:

۱ «رَبَّنا لَكَ الحَمْدُ» (اے زمونږه ربه خاص ستا دپاره ټول حمدونه دی) [رواه البخاري: ۷۲۲]

أو: «رَبَّنا ولَكَ الحَمْدُ» (اے زمونږه ربه او خاص ستا دپاره ټول حمدونه دی) [رواه البخاري ومسلم: ۷۸۹ ، ۹۲۱]

أو: «اللَّهُمَّ ربَّنا لكَ الحَمْدُ» (اے اللهٰ زمونږه ربه او خاص ستا دپاره ټول حمدونه دی). [رواه البخاري ومسلم:۷۹٦ ، ۹۰٤]

أو: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا ولَكَ الحَمْدُ» (اے اللهٰ ! زمونږه ربه خاص ستا دپاره ټول حمدونه دی) [رواه البخاري:۷۹٥]

خبرتیا : په احادیثو کښې د ( شکر ) لفظ ندی نقل شوی پدی وینا کښې چی (( ربنا لك الحمد والشكر )).

۲ «اللَّهُمَّ رَبَّنا لَكَ الحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ ومِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَينَهُما، وَمِلْءَ مَا شِئتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»

اے اللهٰ ! زمونږه ربه ، ستا دپاره هر قسمه صفتونه دی، دومره چی آسمان تری ډک شی، او زمکه تری ډکه شی او هغه څه چی ددی دواړو مینځ کښی دی او ددی نه پس هر هغه څه ډک شی چی ته ئي وغواړئ.[ رواه مسلم: ١٨١٢ ]

**٣ (( رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ.مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلُ الثَّنَاءِ وَالمَجْدِ ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ ))** [رواه مسلم: ١٠٧١]

اے زمونږه ربه ستا دپاره ټول حمدونه دی دومره حمدونه چی آسمانونه تری ډک شی او زمکه تری ډکه شی او ددی نه پس هر هغه څه ترینه ډک شی چی ستا خوښه وی ، اے د ستائینی او د بزرګئ حقداره ربه ، ډیره رشتینی ده هغه وینا چی بنده (محمد رسول الله ﷺ) فرمائیلی ده ، او مونږه ټول ستا بندګان یو ، اے الله ! څه چی ته ورکوی د هغی منع کونکی خوک نشته او څه چی منع کړی د هغی ورکونکی خوک نشته اوخاوند د مالداریٔ له د هغه مالداری ستا د عذاب نه هیڅ فائده نشي ورکوی.

یعنی مالداره انسان او صاحب د قدرت به د هغه مالداری او قدرت د الله د عذاب نه خلاص نکړی.

٤- (( **رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيبًا مُبَارَكًا فِيهِ** )) اے زمونږه ربه! ټول صفتونه د ألوهيت ستا دپاره دی چی ډیر زیات پاکیزه او مبارک صفتونه دی.[ رواه مسلم و البخاري: ٧٩٩ ]

## د سجدی دعاګانی:

١ -(( **سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى** )) پاکی ده زما رب لره چی ډیر اُوچت دی. [ رواه مسلم: ١٨١٤ ]

❖ يو ځل وئيل واجب دی او باربار لوستل ئی غوره دی.

٢ -(( **سُبحانَكَ اللَّهُمَّ ربَّنا وَبِحمدِكَ، اللَّهُمَّ اغفِرْ لي** )) [ متفق عليه: ٤٩٦٨، ١٠٨٥]

«پاكي ده تالره اے الله! چی زمونږه رب ئی سره د حمد ستا نه اے الله! ماته بخنه وکړی.

٣ -(( **سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ المَلائِكَةِ وَالرُّوحِ** )) [ رواه مسلم: ١٠٩١]

الله پاک دی او ډیر پاک دی چی رب د ملائکو او د جبرائیل علیه السلام دی.

٤ -(( **سُبْحَانَ ذِي الجَبَرُوتِ وَالملَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ** )) [رواه أبو داود والنسائي: ٨٧٣ ، ١١٣٣ . وصححه الألباني ]

پاکی ده (هغه ذات لره چی ) خاوند د لوئی قدرت دی او لوئی بادشاهت والا او ډیر لوئي عظمت والا دي .

٥ ـ(( **اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ** ))[ رواه مسلم: ١٠٨٤ ]

اے الله ! زما ټول ګناهونه معاف کړه ، واړه ګناهونه او لوئي ګناهونه او مخکښني ګناهونه او روستنی ګناهونه او ښکاره ګناهونه او پټ ګناهونه .

٦- (( اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِى لِلَّذِى خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ)) [ رواه مسلم: ١٨١٢ ]

اے الله ! ما ستا دپاره سجده وکړه ، او په تا باندی می ایمان راوړی دی او ستا فرمانبردار یم. زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چا چی پیدا کړی دی او شکل ئی ورکړی دی د هغی او غوګونه ئی ورله خیرلي دي او سترګی ئی پرانستی دی، برکتونو والا دي خائسته پیدا کونکی ذات دي.

٧- (( **اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ ، وبِمُعَافَاتِكَ مَنْ عُقُوْبَتِكَ، وأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَما أَثْنَيتَ عَلىْ نَفْسِكَ** )) .

اے الله ! زه پناهی غواړم ستا په رضا باندي ستا د غصی نه او ستا په معافی باندی ستا د سزا نه پناهی غواړم، اے الله ! زه په ته باندي ستا نه پناهی غواړم ، زه ستا ستائینه نشم کولی ،

(څنګه چه ستا حق دی) ته هغه شان ئی څنګه چی تا د خپل ځان صفتونه بیان کړی دی. [رواه مسلم: ١٠٩٠]

لکه څنګه چی په سجده کښی ډیری دعاګانی کول سنت دی د نبی صلی الله علیه وسلم ددی وینا د وجی نه :(( **أقربُ مَا يَكُونُ العبدُ مِنْ رَبه وَهو ساجِدٌ ، فَأكثِروا الدُّعاءَ** )) [ رواه مسلم: ١٠٨٣] . سجده کښی بنده خپل رب ته ډیر نزدی وی نو ډیری دعا ګانی وغواړئ.

## د سجدو مینځ کښی دعاء

١ ـ(( **رَبِّ اغْفِرْ لِي. رَبِّ اغْفِرْ لِي** )) اے الله! ماته بخنه وکړی اے الله ما ته بخنه وکړی. [ رواه أبو داود: ٨٧٤ . وصححه الألباني ]

**٢**- (( اللَّهُمَّ! اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِي، و عَافِنْي، واَهْدِنِي ، واَرْزُقْنِي )) (اے الله ! ماته بخنه وکړی، رحم راباندی وکړی ، معافی راته وکړی ، هدایت راته وکړی ، او رزق راله راکړی) [ رواه أبو داود: ٨٥٠ . وصححه الألباني ]

## د تشهد کلمات

(( التَّحِيَّاتُ لله ، والصَّلَوَاتُ والطيِّبَاتُ ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا النبيُّ وَرَحْمَةُ الله وبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وعَلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إلهَ إلا الله، وأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ ورَسُولُهُ ))

ټول عبادتونه د الله دپاره دی ، بدنی عبادتونه ، مالی عبادتونه، اے نبي! په تا دی سلام او د الله رحمت او برکت وی، او سلام دِی وی په مونږه او د الله په نیکانو بندګانو باندی ، زه ګواهی کوم چی د الله نه سوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته او ګواهی کوم چی محمد ﷺ د الله تعالى بنده او رسول دي. [ رواه البخاري: ٨٣١ ]

**ثم تقول:** «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ ، كما صَلَّيْتَ عَلَى إبراهيم وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ ، اللهم بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْـرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْـرَاهِيمَ ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ »

اے الله ! رحمت نازل کړی په محمد ﷺ او په کورنۍ د محمدﷺ باندی څرنګه چی تا رحمت نازل کړیدی په ابراهیم علیه السلام او په کورنۍ د ابراهیم علیه السلام باندی ، یقینا ته ستائیلی شوی ئی او لوئ شان والا ئی.

اے الله! برکت نازل کړی په محمد ﷺ باندی او په کورنۍ د محمد ﷺ باندی څرنګه چی تا برکت نازل کړی دی په ابراهیم علیه السلام او په کورنۍ د ابراهیم علیه السلام باندی ، یقینا ته ستائیلی شوی ئی او لوئ شان والا ئی. [ رواه البخاري: ٣٣٧٠ ]

یادګیرنه : د تشهد الفاظ په نورو صیغو باندی هم نقل دی چی دی مذکوره الفاظو ته نزدی دی.

## د تشهد نه پس او د سلام نه مخکښی دعاګانی:

١ ـ (( اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ ، وَمِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا والمَمَاتِ.، ومِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ )) .

اے الله! زه پناهی غوارم په تا باندی د قبر د عذاب نه، او د عذاب د اُور نه ، او د ژوند د فتنی نه او د مرګ د فتنی نه او پناهی غوارم د فتنی د مسیح الدجال نه ، او داسی نوری دعاګانی. [ رواه البخاري ومسلم: ١٣٧٧، ١٣٢٨ ]

٢- (( اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنوبَ إِلاَّ أَنْتَ ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ ، وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ )) [ رواه البخاري: ٨٣٤ ]

اے الله! ما په خپل ځان باندی ډیر ظلم کړی دی او ګناهونه معاف کونکی نشته مګر صرف ته ئی (اے الله!) ما ته د خپل طرفنه بخنه وکړی او رحم راباندی وکړی یقینا ته بخنه کونکی او رحم کونکی ئی.

٣ ـ ((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ ومَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ ، وَمَا أَسْرَفْتُ ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي ، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ)) [ رواه مسلم: ١٨١٢ ]

اے الله! ماته بخنه وکړی د هغه ګناهونو چی ما مخکښی کړی دی او هغه چه ما روستو کړی دی او هغه ګناهونه چی ما پټ کړیدی او هغه ګناهونه چی ما ښکاره کړی دی او هغه چی ما زیاتی کړی دی او هغه ګناهونه چه ته وربانندی زما نه خه پوهه ئی (اے الله!) ته مخکښنئ ئی او ته روستونئ ئی ، نشته دی حقدار د بندګئ مګر صرف ته ئی .

٤ ـ (( اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بكَ مِنْ العَجْزِ وَالكَسَلِ، و الجُبْنِ وَالهَرَمِ، والبُخْلِ، وأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، و مِنْ فِتنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ))

[ متفق عليه: ٦٣٦٧ ، ٦٨٧٣ . وهذا لفظ مسلم]

اے الله ! زه پناهی غواړم په تا سره د کمزوری نه او د سُستئ (د بدن) نه او د بزدلئ نه او د بوډا توب نه او د شومتیا نه او پناهی غواړم په تا سره د قبر د عذاب نه او د ژوند او د مرګ د فتنی نه .

## د سلام نه مخکښې ډیر دعاګانی کول.

**عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما قال: (( كُنَّا إذا كُنَّا مع النبي ﷺ... الحديث )) إلى أَنْ قال: (( ثُمَّ لِيَتَخَيَّرَ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو ))** [ رواه البخاري: ٨٣٥ ].

دعبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائی کله چی مونږه د نبی ﷺ سره وو.... حدیث» تردی پوری چه وفرمائیل: «بیا دِی هغه دعاء غوره کړي چی ډیره خوښه وی ورته او په هغی دِی دعاء وغواړی.

## د مونځ نه پس اذکار:

**((أَسْتَغْفِرُ الله، أَسْتَغْفِرُ الله، أَسْتَغْفِرُ الله ، اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلامُ ومِنْكَ السَّلامُ ، تبَارَكتَ يا ذَا الجَلالِ والإِكْرَام ))**

ترجمه: بخنه غواړم د الله نه، بخنه غواړم دالله نه، بخنه غواړم د الله نه، اے الله ! ستا ذات سلامتیا والا دی، او سلامتیا ستا دطرفنه ده، ته ډیرو برکتونو والائی اے ذوالجلال والاكرام ذاته.
[ رواه مسلم: ١٣٣٤ ]

**(( لاَ إِلهَ إلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ المُلْكُ ، وَلَهُ الحَمْدُ ، وَهُوَ عَلى كُلِّ شَيءٍ قَديرٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِما أَعْطَيتَ ، ولاَ مُعْطِيَ لِما مَنَعْتَ ، ولاَ يَنْفَعُ ذا الجَدِّ مِنْكَ الجَد ))**

**ترجمه:** نشته حقدار دبندګۍ سیواء د الله پاک نه یک یو دی، شریک ورسره نشته، هغه دپاره بادشاهي ده، او د هغه دپاره ټولی ستائینی دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی، اے الله! نشته منع کونکی د هغه څه چې ته ئې ورکوی ، او نشته دی ورکونکی د هغه څه چې ته ئې منع کوی اوفائده نشی ورکولی ستا په مقابله کښې مالدار ته مالداري د هغه.

[متفق علیه: ٨٤٤ ، ١٣٣٨]

« **لاَ إِلهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ المُلْكُ ، وَلَهُ الحَمْدُ ، وَهُوَ عَلى كُلِّ شَيءٍ قَديرٌ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ بِالله ، لاَ إِلهَ إلاَّ اللهُ ، ولاَ نَعبُدُ إلاَ إِيَّاهُ ، لهُ النِّعمَةُ ولهُ الفَضْلُ ، ولهُ الثنَاءُ الحَسَنُ، لاَ إِلهُ إلاَّ اللهُ مُخْلِصينَ لهُ الدِّينَ ولَو كَرِهَ الكَافِرونَ** »

نشته حقدار د بندګۍ سیواء د الله پاک نه یک یو دي ، شریک ورسره نشته ، هغه دپاره بادشاهي ده ، او د هغه دپاره ټولی ستائینی دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی ، نشته د ګناه نه اړونکی او د نیکۍ توفیق ورکونکی مګر صرف یو الله دی ، نشته حقدار د بندګۍ سیواء د الله پاک نه ، مونږ بندګی نه کوو مګر صرف د دغه الله ، د هغه دپاره نعمتونه او فضل دی ، او د هغه دپاره ټولی خائسته ستائینی دی ، نشته حقدار د بندګۍ سیواء د الله پاک نه، مونږه هغه دپاره خپله بندګی خاص کونکی یو اګر که کافران ئې بد ګنړی ، [ رواه مسلم: ١٣٤٣].

ددی نه پس دی ووائی ((**سُبْحَانَ الله** )) ثلاثًا وثلاثين مرةً ، و ((**الحَمْدُ الله** )) ثلاثًا وثلاثين مـــرةً ، و (( **اللهُ أَكْــبَر** )) ثــلاثًــا وثلاثين مرةً ، (سبحان الله) (۳۳) دری دیرش کرته (الحمد الله) (۳۳) دری دیرش (الله اکبر) (۳۳) دری دیرش کرته وائی .

اوبیا د سلو (۱۰۰) پوره کولو دپاره به دا دعاء واوئي : (( **لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَريكَ لَهُ ، لَهُ المُلْكُ ، وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلى كُلِّ شَيءٍ قَديرٌ** )) نشته حقدار د بندګئ سیواء د الله پاک نه یک یو دی ، شریک ورسره نشته ، هغه دپاره بادشاهي ده ، او د هغه دپاره ټولی ستائینی دی ، په هر څه قدرت لرونکی دی.[ رواه مسلم: ۱۳۵۲]

## وتر مونځ کښی د سلام نه پس ذکر:

(( **سُبْحَانَ المَلِكِ القُدُّوْسُ** )) ثلاث مرات، ويرفع صوته بالثالثة .

پاکی ده (الله تعالی) لره چی بادشاه دی او پاک ذات دی (د هر قسم عیب نه) دری ځله به دا وائی او په دریم ځل به آواز اوچت کړی. [رواه النسائي: ۱۷۳۳ ]

## د مړی دپاره په جنازه کښی دعاء:

**(( اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ ، وَاعْفُ عَنْهُ ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ، وَنَقِّهِ مِنْ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأبيَضَ مِنْ الدَّنَسِ ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيرًا مِنْ دَارِهِ ، وَأَهْلاً خَيرًا مِنْ أَهْلِهِ ، وَزَوْجًا خَيرًا مِنْ زَوْجِهِ ، وَأَدخِلْهُ الجنَّة ، وأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ القَّبرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ )).**

اے الله ! بخنه ورته وکړی رحم ورباندی وکړی ، معافی ورته وکړی، عزتمنده ملمستیا ئی وکړی ، او فراخه کړی دده ځائی د ورداخلیدو او دی اُووینځه په أوبو ، واوره ، او ګلئ باندی او پاک ئی کړه د ګناهونو نه لکه څنګه چی سپینه جامه د خیرو نه پاکیدلی شی ، او دده د کور په بدل کښی ورله غوره کور ورکړي او أهل ورله ورکړي غوره دده د أهل نه ، او ملګری ورله ورکړه غوره د ملګری دده نه او جنت ته ئی ورداخل کړي او د قبر د عذاب او د أور د عذاب نه ئی محفوظ اُوساته. [ رواه مسلم: ٢٢٣٢]

# داستخارې دعاء

(د هغې د آداء کولو طريقه): دوه رکعاته مونځ کولو نه پس په دا دعاء ووائی :

(( اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوْبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ (ويسمي حاجته) خَيْرٌ لِي فِي دِيْنِي ، وَمَعَاشِي ، وَعَاقِبَةُ أَمْرِي ، فَاقْدِرْهُ لِي ، وَيَسِّرْهُ لِي ، ثُمَّ بَارِك لِي فِيْهِ ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِيْنِي ، وَ مَعَاشِي ، وَعَاقِبَةُ أَمْرِي ، فَاصْرِفْهُ عَنِّي ، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدِر لِيَ الخَيْرُ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ )) .

اے الله ! زه طلب د خير كوم ستا نه په سبب د علم ستا باندی او طلب د توفيق كوم ستا نه په سبب د قدرت ستا باندی او زه سؤال كوم ستا نه ستا د لوئى مهربانۍ يقينا ته قدرت والا ئى او زما هيڅ قدرت نشته دى، او ته په هر څه پوهيږې او زه نه پوهيږم او ته څه پوهيږې په پټو څيزونو باندی ، اے الله !کچرته ستا په علم کښې دا کار (د هغه کار نوم به واخلې) زما دپاره غوره وی زما په دين کښې او زما په ژوند کښې او د آخرى انجام په لحاظ سره د كار زما دپاره،نو توفيق راكړې ماته ددې كار او دا كار راته آسان كړه او بركت راله پکښې واچوي ، او کچرته ستا په علم کښې دا کار (د

هغه کار نوم به واخلی) زما دپاره شر وی زما په دین کښې او زما په ژوند دنیاوی کښې او د آخرنی انجام د کار زما کښې، نو دا کار زما نه واړه وه او ما ددی کار نه واړه وه او توفیق راکړه ما ته د خیر کوم ځائی کښې چه وی او بیا ما په هغې باندی خوشحاله کړه. [رواه البخاري ١١٦٢].

**وبالله تعالى التوفيق**